# د عاجل خبرو لپاره




## موبي گروپ د لمر ټلويزون لسمې کليزې جشن لمانځي!

**کابل، د ۱۳۹۵ کال د زمري ۲۸ نېټه –** نن «لمر ټلويزون» د افغانستان پښتو ژبې په زړه پورې شبکه خپل د کار پيل لسمي کليزې جشن لمانځي.

دا شبکه په ۱۳۸۵ کال کې پرانېستل شوه او له دې مودې راهيسې برياڵي شوې چې په ښه توګه خپل د ليدونکو رضايت او لېوالتيا ترلاسه کړي. د لمر ټلويزون زياتره مخاطبين د افغانستان سهيل او سهيل ختيځ پښتونمېشت ولايتونو کې دي، او په ټولهييزه توګه، سرګرمونکي، خبر، او د روانو چارو اړوند سياسي خپروني، د دې شبکې ځانګړي خپروني دي. د دې خپرونو ټوله محتوا د ننه په افغانستان کې توليد او يا د نړيواله سرچينو څخه پېرودل کېږي او پښتو ژبې ته ژباړني وروسته ته خپرېږي.
د تېرو څو کلونو په لړ کې، لمر ټلويزون د پښتو ژبې شبکو تر منځ تر ټولو غوره ځای خپل کړی. در طول سال‌های گذشته، او په مجموع کې، د هېواد په کچه څلورم محبوب ټلويزون پېژندل کېږي. لمر په ۱۳۸۹ کال کې، د «سلام» ډرام ټولګې رامنځ ته کوني سره، يوه ډېره ستره بريا خپل کړه.

«مسعود سنجر» د لمر ټلويزون مدير، وويل: په داسي حال کې چې موږ تېرو ۱۰ کلونو کې خپل د لاسته‌راوړنو څخه وياړمن يو، همدارنګه لا هم غوره محتوا وړاندې کوني ته، په پوره توګه ژمن يو. موږ د افغانستان په ګوټ ګوټ، او ټوله نړۍ کې خپل د پښتوژبي مخاطبينو لپاره د سرګرمونکي خپرونو تر څنګ د عاجل خبرونو او روانو چارو اړوند سياسي مسئلو د پوښښ لپاره، خپل پانګه اچوني ته دوام ورکوو.
لمر ټلويزون د «ديا اور باتي هم» او «مدهو بالا» هندي سرياڵونو سربېره، عاشقانه او جنايت برخو کې، د غوره ترکي او کلمبيايي سرياڵونو سره مخکښ ځلېدلی او ډېر نامتووالی يې خپل کړی.

همدارنګه دا شبکه د سرګرمونکي او خبري خپرونو تر څنګ، د فيفا، بوندسليګا، لاليګا او د **ICC** کرکټ نړيواله سياليو په شان اړين ورزشي وقايع هم نشر ته چمتو کوي.
دا شبکه د هلمند، خوست، پکتيکا، پکتيا، ارزګان، او زابل په شمېر ۶ پښتونمېشت ولايتونه تر پوښښ لاندې لري.

د رسنيزې مرکو او معلوماتو ترلاسه کولو لپاره، هيله کېږي د media@mobygroup.com پتې سره په اړيکه شئ او يا د ښاغلي سکندر صالح سره په 980 136 798 93+ شمېرې اړيکه ونيسئ.

## د لمر تلويزون په اړه

«لمر تلویزون» د پښتوژبي تر ټولو محبوب شبکه او په افغانستان کې ځلورمه نامتو شبکه ده. دا شبکه د ۱۳۸۵ کال د زمري په ۲۴ نېټه پرانېستل شوه دې مودې کې برياليې شوې چې خپل د ليدونکو رضايت په ښه توګه ترلاسه کړي. د دې شبکې خپرونو ټوله محتوا په سيمه‌ييز توګه توليد او يا د نړيواله سرچينو څخه پېرودل کېږي او په پښتو ژبې خپرېږي.
http://www.lemar.tv/lemartv/

## د موبي ګروپ په اړه

«موبي گروپ»، د مرکزي آسيا څخه تر منځني ختيځ پورې، د ۱۷ سوداګريو ښبنتونلي او مديريت په واک کې لري. دا ډله خپل د غوره ټلويزوني شبکو او مخکښو خپرونو سره په پر له پسي توګه برياليې شوې چې څه د باندې د ۱۵ ميليونه ليدونکو پام ځان ته واړوي. همدارنګه کابورا پروډکشن – د سيمه‌ييزو خپرونو محتوا توليدوونکې او د سن ډانس او سئول ډراما فيلم جشنوارې ډاليو ګټونکې او د امي جشنوارې نوماند شرکت – د موبيګروپ په واک کې دی. د ۲۱ پېړی فاکس شرکت د موبيګروپ له کوچني سهملرونکو څخه دی.
http://www.mobygroup.com/